**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمآل څانګه**

**د متحدالمآل ګڼه: ۱۰** **نېټه: ۲۹ / ۱ / ۱۴۴۴ هـ ق**

---

**د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ریاستونو محترمو منسوبینو ته!**

**السلام علیکم ورحمت الله و برکاته**

**وبعد:** د سترې محکمې محترمې عالي شورا په ۱۴۴۴/۱/۵ هـ ق نېټه چې ۱۴۰۱/۵/۱۲ هـ ش سره برابره ده، د سترې محکمې د رئیس محترم الشیخ عبدالحکیم "الحقاني" صاحب په مشرۍ او د سترې محکمې د محترمې عالي شورى د غړو، د مرکزي دیوانونو رئیسانو او د مرکزي قضایي ریاستونو د رئیسانو په ګډون غونډه وکړه چې د ۱۴۴۴/۱/۵ هـ ق د (۳مه) ګڼه تصویب په ترڅ کې یې د یو شمېر موضوعګانو په هکله پرېکړه وشوه چې د اسلامي امارت عالي محترم مقام سره شریک کړل شي. له همدې کبله، یادې موضوعګانې د اسلامي امارت محترم عالي مقام سره شریکې شوې چې لومړۍ موضوع یې په لاندې ډول وه:

((په ۱۴۴۳/۴/۲۷ هـ ق نېټه، د افغانستان اسلامي امارت عالي محترم مقام هدایت کړی و چې د سندونو موضوع دې د علمای کرامو د شورى تر جوړېدو وځنډول شي.

له پورتني هدایت سره سم، هغه موضوعګانې چې پر سندونو ولاړې وي او د قضیې یو لورى د خپل حق د اثبات په غرض سندونه محکمو ته وړاندې کوي، دا ډول موضوعګانې په محکمو کې ناحل پاتې او ځنډېلې دي او مراجعین یې بیا بیا مراجعه کوي تر څو یې موضوعګانې حل او فصل شي. اوسني شرایطو ته په کتو محکمې په دا ډول موضوعګانې کې د مراجعینو د ستونزو د هوارولو لپاره څنګه اجراأت وکړي؟))

د افغانستان اسلامي امارت محترم عالي مقام د لومړۍ پرېکړې په هکله داسې هدایت وکړ:

((کله چې اسناد محکمې ته وړاندې شول، محکمه دې د سندونو اړونده موادو مطابق هراړخیزه پلټنه وکړي. که د هراړخیزې پلټنې وروسته یاد سندونه د محکمې په غالب ګومان غیر مشبوه وبلل شول، اعتبار دې ورکړل شي او که مشبوه وګڼل شول، اعتبار دې نه ورکوي

د سندونو اړونده مواد چې د سندونو مشبوهیت او غیر مشبوهیت له یوه بل څخه تفکیک او د مشبوهیت او غیرمشبوهیت غالب ګومان یې مشخص او یا تثبیت شي، د اصولنامې د سندونو په بحث کې دې د تبصرې یا ضمیمې په بڼه اضافه کړل شي.))

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

بناءً، د پورته یاد مجلس د لومړۍ موضوع په هکله د افغانستان اسلامي امارت د محترم عالي مقام پرېکړه د دې متحدالمآل په ذریعه د اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو محترمو ریاستونو ته واستول شوه تر څو یې په رڼا کې شرعي او اصولي اجراأت وشي.

**په درناوي**

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

**د دارالانشاء رئیس**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت د څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.